نظر محمد مطمئن ۲۰۱۷/۰۱/۱۵

# په تیرو څلویښت کلونو کې د سولې د خبرو ارزوني غونډه

زموږ ستونزه داده چي هر څه پر یو جهت ورتاوان کوو، هغه کتاب چي د ۳۲ افغان سیاستوالو سره پکي مرکې شوي، او د سولي اړوند يي مهم بحث وړاندي کړی، د بېلابېلو جهتونو د پلویانو او ناټرلو سیاستوالو سره مرکې شوي، د هغوی اندونه یي سولې ته د رسیدو او د سولې اړوند خندونو باندي را اخیستي، په همدې موخه د افغانستان د ستراتیژیکو څیړنو انستیټوټ له لوري په تیرو څلویښت کلونو کې د سولې د خبرو ارزوني تر نوم لاندي غونډه کابل کې جوړه شوې وه، د جنوري میاشتي ۱۲مه، ۲۰۰۱۷، د پنجشنبې ورځ ماسپښین دوه بجي او شل دقیقي غونډه پیل او په ۳:۴۵ ختمه شوه.

جنرال محمد ظاهر عظیمي، د دفاع وزارت پخوانی ویاند، مولوي عبدالحکیم مجاهد د سولې شورا پخوانی مرستیال، د سولې شورا غړی او سلا کار او ډاکتر وفایي زاده، د هوانوردي پخوانی مرستیال وزیر پکې د خبرو وخت درلود. داخل ملي سرود نه وو، ویندوی وویل چي پیل په مناجات د حضرت مولانا خداوندگار بلخ سره کوو ( زما خپله له دغسي الفاظو څخه کرکه کیږي، چي شرک ته پکي ځای پیداکیږي).

ښاغلی عنایت مدثر د پروګرام چلوونکی معرفي شو ( د یو تلویزون د سیاسي بحثونو پخوانی چلوونکی) او درې واړه میلمانه خپلو ځایونو ته وغوښتل شول، ښاغلي مدثر د کولمبیا جګړې او سولې ورته والي زموږ د هیواد د جګړې او سولې سره پرتله کړ. هغه ویل کولمبیا کې هغه وخت سوله راغله چي ښکېلو لورو ومنله چي له جګړې څخه ستړي شوي دي.

له همدې لنډې مقدمي وروسته یي ډیر په بېخوندې سره د ښاغلي عبدالحکیم مجاهد څخه پوښتنه وکړه چي: ولي طالبانو ډاکتر نجیب الله په دار وځړاوو، هغه خو سوله غوښته؟ د مجاهد صاحب جواب دلته وګورئ

فکر کوم دا ډول پوښتنه د سولې په یوه مهم او څیړنیز بحث کې نامناسبه وه، ځکه خو مجاهد صاحب هم تود غبرګون وښود، او رسنیو هم ځیني خبري چي د مجاهد صاحب له قوله په ۲۰۱۲ ز. کال کې یي احمد ضیاء مسعود ته کړي وي، همهغه خبرو ته له سره هواء ورکول شوه، او د سولې دغه بحث هم یو ډول په جګړه باندي پیل شو، زموږ ستونزه داده چي د جګړې او سولې خبرو ځای نه پیژنو، او ځیني ځوانان په هر څه کې له پوره تعصب څخه کار اخلي.



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

له ښاغلي مجاهد صاحب وروسته د سولې په هغو بحثونو چې د کتاب په بنه را ټول شوي وو ډاکټر قاسم وفايي زاده پرې لنډه رڼا واچوله، هغه وویل چې: د سولې اړوند د خلکو د نظرونو یوه څېړنه مخکې د مرکز لخوا خپره شوه، او ډېری افغانان د سولې غوښتونکي دي. داخل د سیاستوالو نظریات راټول شوي، له ۳۲ تنو سره مرکې شوې او د کتاب په بڼه په بېلابېلو بحثونو کې دامرکې ترتیب شوې.

هغه وویل چې ستونزه د ثور له اومې ۱۳۵۷ ل. کال څخه راپیل شوې، او تر نن ورځې پورې په هیواد کې جګړې دوام لري، د پخواني شوروي اتحاد د یوځیانو وتل او د نړیوالو بې مسؤلیتي وه چې کورنیو جګړو ته زمینه برابره شوه، امریکا په هغه وخت کې نه کمونستې پلوه او نه هم اسلامي حکومت په افغانستان کې غوښت.

د ډاکټر نجیب الله وخت او اوسنی وخت یو بل ته ډېر نږدې او ورته والی لري، ولې د ډاکټر نجیب الله وخت کې د هغه د سولې یوائنی طرحه موجود وه چې انتقالي حکومت ته پکې ځای او د مجاهدینو د ډلو سره د سیاسي واک ویشل وو.

ستونزه داده چې افغان حکومت وایي چې د سولې خبرې باید له پاکستان سره وکړو، ځکه طالبان د پاکستان تر کنټرول لاندې دي، او طالبان وایي چې موږ باید له امریکا سره خبرې وکړو ځکه افغان حکومت واک او صلاحیت نه لري.

تر څو چې د افغان جهتونو ترمنځ مخامخ خبرې ونه شي، د سولې مذاکرات او هڅې نتیجه نه شي ورکولای، د جهاد پرمهال مجاهدین له نظره وغورځول شول، د مجاهدینو په استازیتوب اسلام اباد د ډاکټر نجیب الله له حکومت سره هوکړه لاسلیک کړه، مجاهدینو ورسره مخالفت وښود، د استاد رباني په مشرۍ ماسکو ته دمجاهدینو ځینې مشران ولاړل، او جګړو دوام پیداکړ. په مرکو کې د اساسي قانون اړوند سخت نظرونه ورکول شوي، ځینې یې یواځې څو مادې د منلو وړ ګڼي، ځینې پکې بدلون او تعدیل غواړي، او ځینې یې له سره لیکل او توشیح کیدل غواړي.

دبهرنیو پوځیانو وتل بله اساسي موضوع ده، چې په دې اړه هم نظرونه داسې دي چې بهرني پوځیان د کومو شرایطو لاندې باید ووځي، او د اسلامي شریعت تطبیق چې په مرکو کې یې غوښتنه شوې بله مهمه او اساسي موضوع ده. په ټوله کې ویلای شو چې سخت او درانه شرایط وړاندې کول د سولې فرصتونه له منځه وړي.

جنرال محمد ظاهر عظیمي وویل چې: سوله د جنګ مقابل کې وي، د جګړې له امله سولې ته اړتیا وي، د واک مساوي ویش سوله راوستلای شي، ترڅو چې له کوم جهت سره د جګړې ذهنیت وي، سوله هم نه شي کیدای.

هرڅوک چې د دولت په ضد جګړه کوي تر هغه وخت پورې دښمن دی تر څو چې یې له جګړې لاس نه وي اخیستي، وسله یې په ځمکه نه وي اینښي او سولې ته نه وي حاضر شوی.

د سولې اړوند ذهنیت جوړولو او سولې ته رسیدو لپاره له ملي او غیر دولتي امکاناتو څخه ګټه اخیستل په کار ده، په مساجدو کې علماء او په سېمو کې بانفوذه کسان باید د سولې لپاره کار وکړي.

افغان حکومت له خپل لوري څخه سره خطونه په نښه کړي لکه اساسي قانون منل، د تیرو ۱۵ کلونو لاسته راوړني او ...

زموږ د هیواد د جغرافیوي موقعیت له کبله ده چې د سیمې هیوادونه دلته خپلې ګټې خوندي کیدل غواړي.

د طالبانو مرستندوی پاکستان دی، د طالبانو زخمیان چیرته تداوي کیږي؟ طالبانو ته ماینونه له کومه ځایه راوړل کیږي؟ موږ له سولې سره اوږده فاصله لرو.

د کولمبیا او ډاکټر نجیب الله د سولې ورته والی او حالت له اوسني حالت سره پرتله کیدله سم نه دي، زموږ اوسنی د سولې تګلاره ورسره ډېر فرق لري، زموږ په اهدافو، نظریاتو او عقیدوي ارزښتونو کې توپیر شتون لري.

دکولمبیا جګړه کې یوه لوري د مواد مخدر لپاره  جګړه کوله، د ډاکټر نجیب الله سره د مجاهدینو جګړه عقیدتي او مذهبي جګړه وه، ولي اوسنی نظام چې ولسي او نړیوال ملاتړ له ځان سره لري، او یو منتخب نظام دی، د کولمبیا او ډاکټر نجیب د سولې سره نه شي مقایسه کیدای.

ډاکټرنجیب الله هغه څوک وو چې دده په وخت کې ډیر خلک ووژل شول،  له هیواد څخه مهاجر شول، کله چې د خاد (استخباراتو) رئیس وو، د ده په وخت کې ډیر جنایتونه شوي.

## څه ډول ممکن وو چې مجاهد دي له ملحد او جنایت کاره حکومت سره کیناستلی وای؟

اوسنی حکومت یو منتخب او مشروع نظام دی، د سولې د پروسي تر شایې ولس او نړیوال ولاړ دي، کله چې د دفاع وزارت ویاند وم، د دولت نظر مي وړاندي کاوو، د خپل نظر وړاندي کولو اجازه مي نه درلودله، اوس خپل نظر وړاندي کولای شم.

باید وخت ته په کتلو سره دا درک کړو چې حکومت څه غواړي او طالب څه غواړي، ترڅو چې کوم لوری له نظامي زور څخه مایوسه شوی نه وی، سولې ته زړه نه ښه کوي.  نړیوال او حکومت دي د افغان امنیتي ځواکونو رښتونی ملاتړ وکړي، په قوي وسلو دي تجهیز کړي، او امنیتي ځواکونه دي قوي کړي.

دویم نوبت کې ښاغلي عظیمي (د جهاد پر مهال د حرکت اسلامي ګوند د جنوب لویدیځي حوزې جهادي آمر، بیا وروسته د اسماعیل خان تر مشرۍ لاندي د طالبانو سره د جګړې قومندان وو) د عبدالحکیم مجاهد د څرګندونو په تړاو وویل چې: د طالب په نوم سیاسي جریان وجود نه درلود، ولي هغوی د مولوي محمد نبي محمدي او مولوي خالص بابا سره د جهاد پر مهال ولاړ وو، د جهاد وخت کې زه کندهار ته تللی وم، هلته مي د طالبانو جبهه او ملامحمدعمر مجاهد لیدلي وو.

لومړی ځل طالبانو په هرات کې له امیر اسماعیل خان سره لیدنه وکړه، بیا ما هغوی کابل ته د هوا دلاري راوستل، د دولت له رئیس پروفیسور برهان الدین رباني سره یې وکتل، د کابل ښار په انترکانتیننتل هوټل کې طالب استازي اوسیدل، د بیرته ستنیدو په وخت کې استاد برهان الدین رباني د طالبانو له ډلې سره نغدي مرسته هم وکړه. د طالبانو خبره داوه  چې په کندهار کې به بې مسؤلیته او خپل سري پاټکونه له منځه وړي، ولي بیا وروسته د هغوی غوښتني او اهداف نور راجوت شوو. طالبان رښتیا هم یو سیاسي جریان نه وو، د افغانستان په نورو سیمو کې هم ځیني مجاهدین د جهاد له بریالیتوب وروسته په کورونو کیناستل.

وفایي زاده بیا وویل چې د سولې لپاره مهمه موضع عدالت ده، تر  څو چې عدالت نه وي، سوله ستونزمنه ده، هغه وویل: موږ محکمه او عدالت ته راکش کول یواځي د جانب مقابل لوري لپاره غواړو،  ولي عدالت د ټولو لپاره غوښتل په کار دی. د سولې لپاره ښه حل لاره مخامخ خبرې، بین الافغاني تفاهم دی، د حزب اسلامي او حکومت ترمنځ د سولې هوکړه یو مهم ازمایښت دی. له دي وروسته د غونډې ځینو سیاسي ګډونوالو او ځینو خبریالانو پوښتني وکړي، او  یوه سیاستوال داخبره هم وکړه چې دومره مهم بحث د ټلویون د سیاسي بحث په ښه مخکي وړل مناسب نه وو.

پای

نظرمحمد مطمئن

لیکوال او شنانډ